

# اشر

بومبي ليسې (حضرت عمر فاروق رض عالي ليسې

ګ لانزویان

## اساسي رغونه او ترميم



علم تاپيايي په پورته، جهل تاپيايي په کښته

ياعيسې لره ور درومه، ياقارون ته ځان وسپاره

خوشال بابا

October 1, 2025

# ملګري زده کوونکي

(حضرت عمر فاروق لېسې الومنای)

بسم الله الرحمن الرحیم

اِنَّ اللّٰهَ لَا یُغَیِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى یُغَیِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ

الرعد ۱۱

بېشکه الله د هېڅ قوم حالت، تر هغه نه بدلوي چې هغوی (پخپله) خپل حالت بدل نه کړي.

قدرمنو، درنو او معززو استادانو، د سیمې ښاغلیو مشرانو، د زده کوونکیو محترمو اولیا او ګرانو زده کوونکیو،

السلام علیکم ورحمه الله و برکاته،

د لوی خدای دا ستره پېروزینه او نعمت دی چې بیا یې هم د خیر د یوه بابرکته کار په د تداوم او بهتروالي کې سره مخامخ کړو. په یوه ټغر یې راټول کړو د ښوونځي لپاره مو د خیر و برکت اثر پیل کړو چې ښوونځي په اساسي بڼه ورغوو.

د ښوونځي درنو مسوولینو،

ښه ده، یوه ځغلنده یادونه وکړو چې ملګري زده کوونکي د بومبی لېسې / حضرت عمر فاروق لېسې فارغ، په دې ښوونځي کې لږ و ډېر درس ته ناست، یا هم د دې ښوونځي د ملګري زده کوونکي له لارې په وطن کې د پوهنې له پرمختیا، پراختیا او غوړېدا ملاتړي او ملګري دي.

ملګري زده کوونکي د کار او حلالې مزدورۍ د لاس په ټناکو، او د تندي په خولو تویېدو تر لاسه کړي امکانات د خاړپوسو په ټاټوبي کې د پوهنې لپاره مصرفوي. ملګري زده کوونکي به له ښوونکیو، والدینو او شاګردانو سره په ګډه کار کا چې د پوهنې سویې لوړه کړی او په دې ډول ټولنه د رفاه او سوکالۍ په لوري پیاوړی مزل ته ادامه وکړي. موږ ټول باید په ګډه کار وکړو چې دغه موخې ته ورسېږو.

ډېرو معززو مشرانو، ځلمیانو،

علم موږ ته د ژوند اهمیت رانښیي انسان چې ژوندی وي نو د خپل خالق عبادت به وکړي، ښه کارونه به وکړي او د لوی خدای د مخلوقاتو خدمت به وکړي. دا چې ښوونځي او مکتب د علم مرکز دی، نو لازمه ده چې دغه مرکز اباد وي او تل یې دروازې د نوي کول په وړاندې پرانېستي پاتې وي. نور هغه حالت بدلول په کار دی چې درې پېړۍ وړاندې خوشال بابا سر ترې ټکولی:

درست جهان په ناپوهانو سره ډک دی

ولې زیات که په کې وګورې افغان دی

دا ګیله، نیوکه، انتقاد او ارمان نه یوازې د خوشال بابا دی، بلکې زموږ د هر مشر دی. زموږ د والدینو، خویندو او وروڼو او ځوان نسل ارمان او هیله ده.

October 1, 2025

ګرانو زده کوونکیو،

په چک ولسوالۍ کې د ښوونځي د پرانیستې له ورځې سل کاله تېرېږي. یوه پېړۍ وړاندې بومبۍ ښوونځي د اعلیحضرت غازي امان الله خان په ځانګړې پاملرنه د ښوونځي ډېره کېښودل شوه او د هغه مهال کوچنیانو په کې درس پیل کړ.

اوس نه د هغه مهال زده کوونکي زموږ تر منځ شته او نه هم ښوونکي، خو د ښوونځي نوم شته. همدې ښوونځي په تېره یوه پېړۍ کې لوړې ژورې ولیدې. خو له دې ټولو سره سره د علم او فرهنګپالو مشرانو له لوري ښوونځی پرانیستی پاتې شوي او په زرګونو خدمتګاران یې ټولنې ته وړاندې کړل چې د دې خاورینې کورې په یوه برخه کې د خدای د مخلوقاتو او بشر په خدمت بوخت دي.

ګرانو زده کوونکیو،

وطن ته د رفاه او پرمختګ مزل اوږد دی. ملګري زده کوونکي به د ښوونکیو، زده کوونکیو او مشرانو په ملتیا ستړیا حس نه کړي. د هر ملګري زده کوونکي خیال لوړ دی، فکر ژور دی. هغسې لکه لکه پېړۍ مخکې چې د خوشال بابا د ارمان د پوره کېدا لپاره پاچا اعلیحضرت غازي امان الله خان ګام پورته کړ او د ښوونځي د بنسټ ډېره یې کېښوده. او دغه نېک کار بیا د تېرې پېړۍ په هره کړۍ کې زموږ علم پالونکیو مشرانو له خوا وپالل شو او په خورا سختتو تاوجنو او اورنیو حالاتو کې یې ښوونځی وساته او د تدریس چارې جاري پاتې شوې.

پوهېږو چې د علم ترلاسه کولو لاره خورا له ستونزو او کړاوونو ډکه ده. خو له دې ټولو سره بایده ده چې ټول په ګډه د تعلیم پر واټ مزل ته ادامه ورکړو چې د رفاه، سوکالۍ او ابادۍ منزل ته ورسېږو.

مخکې یو ځل یادونه شوې وه چې د نړۍ هر پرمختللي هېواد ته که نظر وکړو، نو د پوهې له برکته یې د پرمختیا و پراختیا مزل کړی او ژوند ته یې خوشالي راوستې. د ساري په توګه سېنګاپور د پوهې په مټ اوسنی مقام خپل کړي. زموږ هیله دا ده چې ګران وطن افغانستان همداسې یوه ورځ ولري. افغانستان د سیالو هېوادونو څخه وشمېرل شي او د سنګاپور او جنوبي کوریا د تعلیمي سېستم د بدلون اساس او بنسټ وګرځوي. موږ ټول باید خپل هوډ هومره لوړ پیاوړی وساتو.

د سېنګاپور لومړي وزیر بنسټ ایښودونکي، لی کوان یو، د اقتصادي ودې، پایښت ضروري او لومړنی اصل وباله. ده ټول تمرکز په زده کوونکیو وکړ چې له برکته یې سنګاپور دغه حالت ته ورساوه. د سوېلي کوریا کیسه هم همدا ډول ده.

ګرانو زده کوونکیو!

دغه د بل هېواد کیسه ده. موږ د زده کوونکي په حیث څه کړای شو؟ یو اسانه ځواب دا دی چې ژوره ساه وباسو، ژور فکر وکړو او دا هوډ وکړو چې همدا شېبه خپلو درسونو ته پام وکړو. له تاسې ګرانو هیله ده یوه شېبه مه ضایعه کوئ او خپلو درسونو په منظم ډول تعقیب کړئ..

قدرمنو استادانو، ښاغلیو قومي مشرانو، ګرانو زده کوونکیو!

ټولو په ګډه د ښوونځي د رغونې په چارو کې برخه واخېسته. اشر مو پیل کړ او په خورا لږو امکاناتو مو ډېر کار وکړ. دغه کار داسې یو فرصت او مجال وګڼو چې د ښوونځي د تعلیمي سویې په لوړاوي کې مرستندوی او ممد واقع شي. د زدکوونکیو تر منځ دا انګېزه وپنځېږي چې څنګه خپلو درسونو ته متوجه شي. څنګه یې فکر له نورو ټولو مسایلو یوازې او یوازې درس، کورنۍ، د وطن ابادۍ او ښېرازۍ ته راووړي.

October 1, 2025

معززو استادانو!

تاسې ډېر د قدر وړ یاست. ستاسې په هلو ځلو به د ښوونځي تعلیمي سویه لوړېږي. ښوونځي به د سیاسي رقابتونو او سیاسي لوبو له ډګره پاک ساتل کېږي چې زده کوونکي په مینه خپلې زده کړې دوام ورکړي.

ستاسې هلې ځلې چې دسپلین مراعات او عملي شي، دا اوسنی او راتلونکی نسل د بریا پر واټ مزل ته برابروي. تاسې مقدسه دنده پر مخ وړئ، خدای تعالی دې اجرونه درکړي. هیله ده د وخت ناخوالې مو نهیلي نه کړی. ستاسې نومونه به تلپاتې وي.

قدرمنو والدینو،

تعلیم او تربیه یوازې د ښوونکي کار نه دی، دا د ښوونکیو، والدینو او زده کوونکي ګډ کار دی. والدین هیله لري چې لوښې او زامن یې د تعلیم په ګاڼه باندې وپسولل شي. په همدې خاطر والدین ستړیاوې ګالي او د خپلو اولادونو لپاره هیلې او امیدونو لري. دا هیلې او امیدونو هغه وخت باثمره کېدای شي چې له ښوونکیو او اولادونو سره ګډ کار شي. د کورنۍ کارونو، د ښوونځي د نظم او دسپلین مراعاتول، د مشرانو درناوی، د چاپېریال ساتنه، دا ټول زموږ پازوالي او مسوولیت دی.

خویندې که اوس خپله ښوونځي ته نه شي تلی او دا فرصت نه دی ورته برابر، خو د ورونو له ښه علم سره یې خپلې هیلې غوټه کړي، چې وروڼه به ښه تعلیم وکړي، د ټولنې لپاره به کار وکړي او بیا به خویندي د علم له برکته وطن ته سوکالي راشي او خویندې به بیا ښوونځي ته لاړې شي.

ها، پېر به بیا راشي لکه مېرمن ګوهرشاد چې د علم د پرمختیا او پراختیا کې کار کاوه، د زرغونې انا، نازو انا، سپینې ادې، بي بي عینو، ملالۍ او همدې راوروستني تاریخ په ځېر ناهید شهید په څېر مېرمنې به د وطن رفاه او سوکالۍ لپاره خپله برخه واخلي.

همدا اوس، مېرمنو هم د تعلیم د پرمختیا او پراختیا لپاره خپله مرسته نه ده سپمولې، ونډه یې اخېستې. مېرمنې له سترګو او فکر هغه نجونې نه وځي چې په کلي کې ورته د تعلیم فرصت برابر نه دی، خو له وطن بهر دوی د خدای د دې ستر ورکړي نعمت څخه برخمنې دي. په همدې لړ کې د مېرمنو بسپنه او مرسته د پام وړ ده.

ملګري زده کوونکي (د کورنیو د غړیو په حیث ښځینه وو ا و نارینه وو) د خپلو کورنیو د خولې نمړۍ نیموي، او هغه پخپل پلرني / مورني ټاټوبي کې د پوهنې د رڼا د بل او روښانه ساتلو لپاره لګوي.

د ښوونځي د اساسي رغونې اشر کې مهمه ونډه د ولس ده. د ولس له مرستې پرته اشر او د ښوونځي د ابادۍ چارې ناشونې وي. دلته به لومړی ملګري زده کوونکي د هغو دوستانو نومونه ستاسې شریکوي چې د ښوونځي د رغونې لپاره یې نغدې بسپنه ورکړې ده او په ورپسې جدول کې به د هغو دوستانو د اشر مرسته چې د ښوونځي په رغونه کې یې بې الایشه په اخلاص مرسته وکړه.

October 1, 2025

ګرانو زده کوونکیو،

تاسې به خپل همت لوړ ساتئ، ژور فکرونه او لوړې خيالونه به ساتئ، روم په يوه شپه ورځ کې نه دی جوړ شوی. دا وطن په يوه شپه ورځ کې نه جوړېږي، خو تاسې به د دې بنسټ دجوړېدا اساسات وئ. ان شاالله تاسې به لوړو زده کړو ته لار مومئ او بيا به يې بشپړې کړئ. دا په ياد لرئ چې مسوولیتونه به مو ډېرېږي. په ځان باور ولرئ. د ټولنې او ولس سترګې تاسې ته دي. د خپلې روغتيا او کورنۍ او چاپېريال خيال وساتئ. دا تل په ياد ولرئ چې روغ فکر په روغ بدن کې وي. د خپلو والدينو سره مرسته وکړئ او په کلي کې د مشرانو درناوی ستاسې وجيبه ده. د ښوونکيو درناوی او دوی ته دعا بايد د زده کوونکی تل په ياد وي. دا هيله او اميد تل ژوند وساتئ چې د ټولنې لپاره خورا ښه مثال او ساری پاتې شئ.

ښاغلو مشرانو او ځوانانو،

ملګري زده کوونکي به کار وکړي چې څنګه هر ښوونځي خپل المنای ولري او په دې ډول د پوهنې، پرمختيا او پراختيا په برخه کې له پرګنو سره ګډ کار وکړي.

بده به نه وي هغه تجربې ته هم لږ اشاره وکړو چې د ښوونځي د اساسي رغونې په بهير کې ترلاسه شوې.

لکه چې وويل شول ملګري زده کوونکي د معارف لپاره کار کړي او ددې لړۍ لومړۍ کړۍ يې بومبی لېسې د اساسي رغونې څخه پيل وکړه. البته ددې يادونه په کار ده چې دغه لومړی کار نه دی. بلکې تېر کال هم خورا ښه کارونه ترسره شوي. د دې ملګري زده کوونکي له نورو دوستانو سره کار کړي چې څنګه کېدای شي نورو ولسواليو او په ټول افغانستان کې ورته ګامونه واخېستل شي.

ملګري زده کوونکي چې هر کام ترسره کوي، هغه ته د ګام نوم ورکوي. د سږني ګام د پورته کولو لپاره يې له دوستانو سره خبرې وکړې او هيله يې وکړه چې په دې لړ کې يې ملاتړ وکړي. درانه او قدرمن ناصري صاحب / کورنۍ يې / اکسوس دې خير يوسې چې ډېر مو په تکليف کړل. ښاغلي ناصري په نيمه خبره او يوه يادون وويل: زه خپله ونډه اخلم.

ملګري زده کوونکي ډېرو ته د کار د ملاتړ خبره وکړه. ځينې هېڅ ځواب ور نه کړ، د ځينو ځواب انکار و او ځينو ژمنې وکړې او ترسره يې نه کړې.

ښاغلي ناصري صاحب بيا هغه شخص دی چې د خپل شته امکانات يې د فرهنګ او معارف برخې ته وقف کړی او بې دريغی اخلاص لري. خدای دې ورته اجورنه ورکړي، يو په مېليون. له ملګري زده کوونکی سره يې ښه ونډه يې واخېسته. د رنګ ټولټال لګښت ۴۲۰۲ ډالر شو. له دې څخه ښاغلی ناصري صاحب، د ده درنه کورنۍ / اکسوس رنګ د ۲۸۵۰ ډالرو په ارزښت د رنګ مرسته وکړه .پاتې لګښتونه د رنګمالۍ وسايل، د رنګ د تغير څيزونه، رنګ (په لږ مقدار) کابو ۹۲ زره افغانۍ ۱۳۵۲ ډالره ملګري زده کوونکي له عمومي بودجې پرې کړل .يوازې د مسلکي کسانو د رنګ اجوره ۷۲ زره افغانۍ شوه. په دې ډول: يو ځل د مسلکي رنګمالانو يو ګروپ وګومارل شو، د رنګ چارې ورته وسپارل شوې. دوی کار وکړ. اټکل داسې کېده چې دا اوجوره به ډېرېږي، ځکه کار يې ډېر کاواکه و او د کاواکۍ تر څنګ بې خونده او بدرنګه و. له دوی سره اشرګړيو هم کار کاوه. د دغو رنګمالانو کار ته په کتو، ښوونځي قرارداد فسخ کړ او رنګمالانو ته يې ځواب ورکړ. د دوی اجوره ۱۲ زره افغانۍ شوه. حال دا چې کار يې د يوې افغانۍ ارزښت نه درلود.

بيا بله ډله د مسلکي رنګمالانو ګروپ وګومارل شو. ښوونځي مناسبه وګڼله د رنګ چارې په اجاره ورکړي. ۳۵ زره افغانۍ قرارداد شو .ښوونځي ادارې له رنګمالانو وغوښتل چې پخوانی رنګ وتراشي، ګلګل ورکړي او بيا رنګ ورکړي. رنګمالانو ووې چې په دې اجوره دغسې کار نه کوو. دوی شپږ کسان وو، کله اته. د کار حجم ته په کتو، دغه رقم ۵۵ زره افغانۍ شو او په همدې موافقه وشوه.

د رنګ کارونه چې وروستي پړاو ته ورسېدل، ښوونځي اداري هیله وکړه چې د بنسټ ډېرې (تاداو) هم رنګ شي. رنګمالانو د هغو اجوره ۶ زره افغانۍ غوښته، په ۵ زره موافقه وشوه او په ۶۵۳۰ افغاني رنګ ورته راونیول شو. په دې ډول د رنګمالي اجوره ۷۲ زره افغانۍ شوه. د رنګ وسایل، د رنګمالانو اوجره ، چونه، د دروازې رنګ، د رنګ تغیر ورکوونکی، او په اخري څل رنګ ملګري زده کوونکي ترسره کړی .په دې ټول د رنګ د چارو په ټول بهیر کې له ښاغلي ناصري سره په رابطه کې پاتې شوي. په دې ټول بهیر کې ناصیري صاحب تندی نه دی تریو کړی.

د رنګ د چارو له پیل مخکې ښاغلي محمد نعیم عمرزي صاحب د ښوونځي د بام او څڅوبي خبره وکړه. هغه ووې که ښوونځي رنګ شي او بام یې جوړ نه شي نو سبا به بیا څاخي او رنګ لګښت بې ځایه وي.

د بام کانکریت او ایزوګام ډېر لګښت غوښت. کله چې ملګري زده کوونکي له د ښوونځي د اساسي رغونې خبرې کړې او ښاغلي مولوي صاحب انعام الله شېرزی صاحب سره خبره وشوه. هغه ووې، د ایزوګام د لګښت چاره به زه وکړه.

په دې ډول په لږ وخت کې د ښوونځي د اساسي رغونې چارو ترتیب پیل شو، خو بشپړ نه شو.

تر اوس لاندې کارونه ترسره شول.

- د کمپیوترلب نېټورک
- سرور فعالول، د سرور هاډېسکونو لوړتیا لوړلو او د یو ۱۳عشاریه دوه ټبي هارډېسګ ډالۍ چې ۴۶۷ ډالر قیمت یې درلود، په دې ډول به افلاین ډیټا څخه زده کوونکي کار واخلي.
- د بام کانکریت وشو .
- د بام ایزوګام
- د پلستر ترمیم
- د کړکیو ترمیم
- د درسي خونو دروازو ترمیم
- د لویې دروازې ترمیم
- د تورو تختو پر ځای سپینې تختې نصبول
- ښوونځي ته مارکرونه او تخت پاکونونه وسپارل شول
- پېنځه کیلو واټه لمریزې برېښنا جوړه شوه
- رنګ وشو
- یو لبټاپ ښوونځي ته ورکړل شو.

نور ډېر کارونه یې لا پاتې دي، که ژوند و، او حالات سم وو، هغه به هم ان شالله وشي .دغه ټول کار له ولس سره په ګډه همکارۍ بشپړ شوي.

ټولو ته دې خدای پاک اجرونه ورکړي چې د خیر و برکت چارو کې برخه اخلي، ستړیا ګالي او قرباني ورکوي .ملګري زده کوونکي، ولس او په مجموع کې ټول خلک به د معارف او فرهنګ په برخه له مرستندویانو مننه کړي.

د کار په ډې ټول بهیر کې د ولس مرسته او همکاري هغه څه دي چې خورا ګران دي او له ارزښت ټاکلو لوړ کار دی.

د ولس اقتصادي حالت داسې نه دی چې د پیسو مرسته وکړي، د بشري ځواک او وسایلو دریغی یې نه دی کړی.

په خورا اخلاص یې د بام د کانکریت لپاره رېګ راوړ، په ډېره مینه او محبت یې د کانکریت لپاره اشر وکړ. ښاغلي انجینیر محمد یاسین، ښاغلي انجینیر میرویس جلالي خپل وسایل راوړل او د کانکریت چارو لپاره یې وکارول.

ښاغلي خان محمد وردګ، ښاغلي محمدنعمیر عمرزي، ښاغلي ابن یمین همغږي یې وکړه، منډې ترړې یې وکړی همدا ډول د هغو ټولو دوستانو، مشرانو، ځوانو نومونه د یادولو وړ دی په اشر کې یې ونډه اخېستې ستړیا یې ګاللې او په خورا مینه یې کار وکړ.

ښاغلي انجینیر شېرالرحمن سمسور د ښوونځي د لوحو جوړولو بندوبست وکړ او تر څنګ یې ښوونځي د نېټورک چارې بشپړې کړې.

ښاغلی محمد حامد بها هر وخت ښوونځی ته تللی او په خپل مخپاڼه (فسبوکپاڼه) یې معلومات خپاره کړی. د اشر په ورځ لاړ په ژوندۍ بڼه یې د کار بهیر له خلکو سره شریکاوه.

کله چې ولس راټول شي او په ګډه کار وکړي. په لږو امکاناتو ډېر کار کېږي. په دې برخه کې کار و زیار ته اړتیا ده، چې دغه ډول کارونه لا تر دې ښه شي.

ملګري زده کوونکي دغه د کار پیل دي. ورته کارونه به ان اشاﷲ په نورو ښوونځي کې هم په وخت ترسره شي.

درونو مشرانو،

په دې برخه کې د مېرمنو ونډه د یادولو وړ ده. مېرمنو ځانګړې نغده مرسته هم کړې او په ټولنیزه بڼه بسپنه ورکوونکی کې د کورنۍ د غړي په حیث ونډه د یادولو او پام وړ ده. مېرمنو، خویندو، میندو له هوکړې پرته بسپنه ناشونې ده. د نجونو د نعلیم په برخه کې هم ورته بارز ګامونه پورته کول په کار دی.

په مینه او ادب

ستاسې د دعاوو په هیله

ملګري زده کوونکي

October 1, 2025

# ملګري زده کوونکي

**بومبی ښوونځي لپاره بسپنه**

| د مرستي اندازه په امریکایي ډالر | نوم |
|---|---|
| 100 | ۱- ښاغلی محمد وصیل وردګ |
| 100 | ۲- ښاغلی احسان الله بومبیوال |
| 100 | ۳- ښاغلی محمد هاشم وفا |
| 100 | ۴-ښاغلی حمید الله راحل |
| 100 | ۵-ښاغلی احد نظیمي |
| 100 | ۶-ښاغلی حفیظ الله غښتلی |
| 300 | ۷-ښاغلی اباسین بریالی |
| 100 | ۸-ښاغلی داود عمري |
| 100 | ۹-ښاغلی قدرت الله امیري |
| 100 | ۱۰-ښاغلی بهیر وردګ |
| 100 | ۱۱-ښاغلی محمد اکرم ذکي |
| 100 | ۱۲-ښاغلی انجینیر نقیب الله ارام |
| 100 | ۱۳-ښاغلی انجینیر سید عمر |
| 100 | ۱۴-ښاغلی انجینیر نعمت الله نوري |
| 100 | ۱۵-ښاغلی بریالی روان |
| 50 | ۱۶-ښاغلی انجینیر وحیدالله صابري |
| 50 | ۱۷-ښاغلی انجینیر ګل ولي حبیب |
| 100 | ۱۸-ښاغلی انجینیر نجیب الله ځیرک |
| 100 | ۱۹-ښاغلی حبیب الرحمن حبیبي |
| 62.5 | ۲۰-ښاغلی نثار احمد جلالي (۱۰۰ استرالیایي ډالر) |
| 50 | ۲۱-ښاغلی ریان اشنا |
| 100 | ۲۲-ښاغلی عثمان وردګ |
| 100 | ۲۳-ښاغلی انجینیر هدایت الله زاهد |
| 600 | ۲۴-ښاغلی / نه غواړي نوم یې یاد شي |
| 100 | ۲۵- ښاغلی دوکتور محمد اجمل خرم |
| 85 | ۲۶- ښاغلی احسان الله نوري |
| 100 | ۲۷- ښاغلی عصمت نادری |
| 62.5 | ۲۸- ښاغلی محمد انور غفارزی (۱۰۰ استرالیایي ډالر) |
| 62.5 | ۲۹- ښاغلی محب الله شېرزی |
| 200 | ۳۰- ښاغلی مشر حاجي صاحب (نه غواړي نوم یې ولیکل شي) |
| 62.5 | ۳۱- اغلې خور چې نه غواړي نوم یې یاد شي (۱۰۰ استرالیایي ډالر) |
| 100 | ۳۲- ښاغلی انجینیر عبدالهادي هادي |
| 300 | ۳۳- ښاغلی مشر ښاغلی خان |
| 50 | ۳۳- ښاغلی انجینیر ذبیح الله سرفراز |

| | |
|---|---|
| ۳۴- ښاغلی نجیب الله صدیقي ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۳۵- ښاغلی نه غواړي چې نوم یې یاد شي ۵۰ ډالر | 50 |
| ۳۶ ښاغلی نه غواړي چې نوم یې یاد شي ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۳۷- ښاغلی روح الله حبیبی ۵۰ ډالر | 50 |
| ۳۸- ښاغلی مشر روح الله شېرزوی وردګ | 200 |
| ۳۹ - ښاغلي مولوی صاحب قاري انعام الله شېرزوی او د ده دوستان | 3650 |
| ۴۰- ښاغلی ناصري صاحب | 2850 |
| ۴۱- ښاغلی مشر محمد هارون وردګ | 200 |
| ۴۱- ښاغلی مشر چې نه غواړي نوم یې یاد شي | 114 |
| ۴۲- ښاغلی صفی ستانکزی | 150 |
| ۴۳- اغلي انجینیره سپینه نوابي | 100 |
| ۴۴- محمد مقصودي | 100 |
| ۴۵- ښاغلی عبدالرحمن مایار | 100 |
| | |
| | |
| ټول | 11799 |
| | |
| دوستان او ملګري چې د انټرنت / کمپیوټرلب لپاره یې مرسته کړې: | |
| ۱- ښاغلی منصور احمد منصور ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۲- ښاغلی پوهندوی دوکتور محبوب شاه محبوب ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۳- ښاغلی حفیظ الله غبنتلی ۵۰ ډالر | 50 |
| ۴- ښاغلی عبدالقدیر حضرت ۵۰ ډالر | 50 |
| ۵- ښاغلی عبدالبصیر جلالي ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۶- ښاغلی محمد رفیق توتاخېل ۵۰ ډالر | 50 |
| ۷-ښاغلی محمد وصیل وردګ ۵۰ ډالر | 50 |
| ۸-ښاغلی دولت خان وزیري ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۹-ښاغلی انجینیر محمد حنیف نوابي ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۱۰-ښاغلی احمد فرزان ساپی۱۰۰ ډآلر | 100 |
| ۱۱-ښاغلی سبحان الله شفق ۱۰۰ ډالر | 100 |
| ۱۲-ښاغلی محمد عارف خزان ۱۵۰ ډالر | 150 |
| ۱۳- د ښاغلي دولت خان وزیري صاحب له خوا د سرور لپاره د هارډېسک ډالی | 469 |
| | |
| ټول | 1519 |
| | |
| ټولټال بسپنه | 13318 |
| | |
| ټول لګښت | 14114.19143 |
| بېلانس | -796.1914332 |
| | |
| د بودجي کسر لپاره مرسته | |

October 1, 2025

| | |
|---|---|
| 50 | ښاغلی انجینیر نقیب الله ارام |
| 50 | ښاغلی انجینیر نجیب الله څیرک |
| 50 | ښاغلی توریالی ملیار |
| 100 | ښاغلی انجینیر هدایت الله زاهد |
| 100 | ښاغلی انجینیر محمد هاشم وردگ |
| | |
| 350 | ټول |
| | |
| -446.1914332 | وروستی بیلانس |

October 1, 2025

ملکري زده کوونکي

| بومبی ښوونځي اساسي رغوني لپاره ولسي ا شر برخه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | توکی / جنس | شمېر | یو / قیمت په افغ | ټول قیمت په افغ | ټول قیمت په ډالر |
| 1 | د کانکریت لپاره رېګ ـ ښاغلی ډاکټر محمد صادق وردګ، ښداغلی ډاکتر صفت الله وردګ، ښاغلی انجینیر میرویس جلالي، ښاغلی انجینیر یاسین وردګ او... | موټره ۴۲ | 1250 | 52500 | 772.058824 |
| 2 | د اشر لپاره خوراک / څښاک / ښاغلی ملیار او ښاغلی محمد نعیم عمرزی | دوه څله | | 12000 | 174.44396 |
| 3 | د رېګ لپاره مېکسر ښاغلی انجینیر میرویس جلالی او ښاغلی انجینیر یاسین وردګ صاحب | 2 | 12000 | 24000 | 348.88792 |
| 4 | بام ته د کانکریک خېژولو کرېنګ ښاغلی میرویس | 2 | 20000 | 40000 | 581.479866 |
| 5 | کاریګر مسلکي کسان / د کانکریت | 8 | 1200 | 9600 | 141.176471 |
| 6 | اشرګري د کانکریت لپاره | 60 | 500 | 30000 | 436.1099 |
| 7 | د کمپیوټرلب د نېټورک انستالېشن / ښاغلی انجینیر سمسور | | | 25000 | 367.647059 |
| 8 | اشرګري د رنګ لپاره | 15 | 400 | 6000 | 87.2219799 |
| | ټول | | | | 2909.02598 |

| | |
|---|---|
| د اشر په ګډون ټول لګښت | 17023.2174 |

October 1, 2025

# ملکري زده کوونکي

| ټول قیمت په ډالر | ټول قیمت په افغ | یو / قیمت په افغ | شمېر | توکی / جنس | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | د شویو کارونو لګښتونه | |
| 358.1915976 | 24640 | 1120 | 22 | سپیني تختي | ۱ |
| 56.69428696 | 3900 | 390 | 10 | سیمنټ چراټ | ۲ |
| 17.44439599 | 1200 | 1200 | 1 | له کابل تر ښوونځي د سپینو تختو او سیمنټو کرایه | ۳ |
| 7.268498328 | 500 | 500 | 1 | له دوکانه د چک تر اډې د رنګ کرایه | ۴ |
| 18.89809565 | 1300 | 1300 | 1 | له اډې تر ښوونځي د رنګ وړلو کرایه ۵۶سطله په دوو موټرو کې | ۵ |
| 218.0549498 | 15000 | 15000 | 1 | د پلستر ترمیم اجوره | ۶ |
| 2070.068324 | 142400 | 356 | 400 | سیمنټ عسکري | ۷ |
| 210.7864515 | 14500 | 14500 | 1 | تر ښوونځي د ۴۰۰ بوجس سیمنټ کرایه | ۸ |
| 39.24989097 | 2700 | 90 | 30 | د سپینو تختو مارکر | ۹ |
| 13.08329699 | 900 | 30 | 30 | د سپینو تختو تختپاک | ۱۰ |
| 222.1253089 | 15280 | 15280 | 1 | د کړکیو ترمیم | ۱۱ |
| 145.3699666 | 10000 | 10000 | 1 | د دروازو ترمیم | ۱۲ |
| 174.4439599 | 12000 | 12000 | 1 | د ښوونځی د لويي دروازې ترمیم | ۱۳ |
| 654.9 | 45050 | 1 | 1 | د نېټورک وسایل | ۱۴ |
| 4632.116788 | 317300 | 190 | 1670 | ایزوګام | ۱۵ |
| 122.1107719 | 8400 | 8400 | 1 | د ایزوګام کرایه | ۱۶ |
| 8.722197994 | 600 | 600 | 1 | د ۱۰ سطله رنګ کرایه | ۱۷ |
| 348.8879198 | 24000 | 2400 | 10 | لمریزې تختې | ۱۸ |
| 94.19973833 | 6480 | 6480 | 1 | د لمریزو تختو چوکاټ وسپنه | ۱۹ |
| 50.8794883 | 3500 | 700 | 5 | د لمریزو تختو د چوکاټ جوړولو اجوره | ۲۰ |
| 23.98604448 | 1650 | 1650 | 1 | له کابله تر ښوونځي د لمریزو تختو د لېږد کرایه | ۲۱ |
| 35.25221689 | 2425 | 2425 | 1 | د رنګمالي وسایل (بورس، رېګمال، پترې، پلاستیک او...) | ۲۲ |
| 13.08329699 | 900 | 180 | 5 | ګچ | ۲۳ |
| 2850 | 196051 | 1 | 1 | رنګ (ښاغلی ناصري د رنګ لګښت ورکړ) | ۲۴ |
| 21.80549498 | 1500 | 1500 | 1 | متفرقه لګښتونه (د اشرګریو لپاره) | ۲۵ |
| 469 | 32262 | | 1 | د سرور لپاره هارډېسک | ۲۶ |
| 176.4705882 | 12000 | 12000 | ۱ | د رنګمالانو اجوره (لومړی ټیم، قرارداد فسخ شو) | ۲۷ |
| 808.8235294 | 55000 | 1 | 1 | د مسلکي رنګمالانو اجوره | ۲۸ |
| 73.52941176 | 5000 | 500 | 1 | د تاداوو د ډبرو رنګ اوجوره | ۲۹ |
| 82.71551098 | 5690 | 1 | 1 | د رنګ وسایل / تغیر رنګ.... کرایه | ۳۰ |
| 96.02941176 | 6530 | 1 | 1 | د تاداو ډبرو - سنګاری) رنګ | ۳۱ |
| | | | | | |
| | | | | | |
| 14114.19143 | 968658 | | | ټول لګښت | |
| -446.1914332 | | | | بلانس: | |
| | | | | یادښت: کرایه یوازې د توکیو لېږد کرایه ده، نه ده شخص | |

د خليل تر کعبې دا کعبه ده لويه
که اباد کا ځوک ويران حرم د زړه
عبدالرحمن بابا

ملګري زده کوونکي او ولس په ګډه په چک ولسوالۍ کې بومبی ښوونځي (حضرت عمر فاروق عالي لېسې) پخوانۍ ودانۍ ورغوله.

د ولس او وطن د خلاصون او نجات يوازينۍ لاره معارف دی. راځئ په ګډه په افغانستان کې د معارف د پرمختيا او پراختيا لپاره کار وکړو.

ملګري زده کوونکي د معارف په برخه کې



## ښوونځی له رغوني وروسته





که زړونه سره يو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کانې به لالونه شي دا بوټي به لونګ شي
درويش دراني



## ښوونځی له رغوني مخکي



(بومبی لېسې / حضرت عمر فاروق لېسې المنای)

نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کړې. د ملګري زده کوونکي مانيز او مادېز ملاتړ به په دې لار کې منزل ته رسېدل ګړندي کړي.

ملګري زده کوونکي وخت په وخت د پرمختيا او مرسته کوونکيو معلومات له شريک کړي او دغې لړۍ ته به په همدې بڼه ادامه ورکړي.

ستاسې د مرستې او ملاتړ له برکته په خورا کمو امکاناتو ډېر کارونه ترسره شول.

ملګري زده کوونکي هيله لري چې خپلې همکارۍ لا پراخه کړئ.

بومبی ښوونځی د رغونې په برخه کې لانور ډېر کار ته اړتيا لري.

ملګري زده کوونکي به معارف برخه کې د ولس سره په ګډه کارونه کړي.

# ملګري زده کوونکي

# ملګري زده کوونکي

(بومبی لېسې / حضرت عمر فاروق لېسې المنای)

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لالونه شي دا بوټي به لونګ شي
درویش درانی




په چک ولسوالی کې د معارف د سلمې کلیزې په ویاړ، بومبی لیسې ته د ۶۵۰ډالر او ۹۰ سېنټو په ارزښت کمپیوټرلب د ای ټي وسایل لکه ۳۰۵ متره کټ ۶ کېبل، ارجې ۴۵ کنېټر، ۴۸ پورته پچپنل، کېبل منجر، سېسکو سویچ، روټر او.... وپېریل او تر څنګ یې هغه کېبلونو او وسایل ورسره ملګري کړل چې له سمسور صاحب سره وو لکه فایبر کېبلونو او کنېکټرې. ښاغلی سمسور خپل وخت وقف کړی چې کمپیوټرلب سمبال کړي. په دویم پړاو کې به سرور ته هارډډېسک اورم ولګول شي چې ډېری درسي مواد په لب کې په افلاین بڼه وکارول شي.
همدا ډول به د کمپیوترلب لپاره د لمریزې برېښنا سېستم ظرفیت لوړ شي.







که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کانې به لالونه شي دا بوټي به لونګ شي
دروېش درانی







ستاسې د مرستې او لاسنیوی له برکته به ښوونځی اوس پینځه کیلوواټه لمریزه برېښنا ولري. چوکاټه جوړ او رنګ شول. لمریزې تختې وپېرل شوې او ښوونځي ته یوړل شوې.

ملګري زده کوونکي د لګښتونو په لېست کې تاسې مارکرونه او تخته پاکونه تر نظر تېر کړل. دلته یې تاسې انځور ګورئ. همدا ډول تاسې ولوستل چې د رنګ لپاره وسایل پېرل شوي. دلته یې انځور وینئ. د معارف مینه وال ښاغلي ناصري صاحب ۱۰ ستله نور رنګ د تعمیر د بهرنۍ برخه لپاره مرسته وکړه. د رنګ په برخه کې د ښاغلي ناصري ټولټال مرسته ۱۸۵۰ ډالره شوه.

په لګښتونو کې یوازې د لېږد لګښت (کرایه) شامله ده، نه د شخص. دا د ولس مرسته ده، چې هغه لګښت یې په ځان منلی.

په ډېرو لږو امکاناتو د ښوونځي د رغونې کارونه په مخ روان دي.

هیله ده د هېواد په نورو سیمو کې د معارف د پراختیا او پراختیا لپاره ورته ګامونه پورته شي.

د وطن د نجات لار یوازې معارف دی.

















# ملګري زده کوونکي

(بومبی لیسې / حضرت عمر فاروق لیسې المنای)







بومبی ښوونځي (حضرت عمر فاروق رض عالي لېسې) د بام رغونې چارې بشپړې شوې. د ولس په اشر و همکارۍ د بام کانکريت چارې او ۱۶۷۰ مترمربع ایزوګام یې نن د اګست ۲۱مه بشپړ شو.

د ښوونځي د بام رغيزې چارې خورا مهمې وې او لومړيتوب يې درلود. د څڅوبې له امله د ټولګيو چتونو پوپنک ايستلی وو، چې دغې ستونزې ښوونکيو او زده کوونکيو ته روغتيايي ستونزې راولاړولای شوې.

له کانکريت پرته یوازې د ایزوګام لښګت ۳۲۵۶۵۰ افغانۍ شو. د زده کوونکيو او ښوونکيو د روغتيا او غوره تعليمي چاپېريال په رامنځته کولو دغه لګښت خورا ناچيزه ده.

ملګري زده کوونکي وياړي چې له ولس سره په ګډه د معارف د پرمختيا او پراختيا لپاره کا کړي. اوس زده کوونکي او ښوونکي به د څڅوبې په امان وي. په ارامۍ به خپلو درسونو ته ادامه ورکړي.






# دالاسنیوی به دي تر ډېره یادومه

په چک کې د معارف د سلمې کلیزې په ویاړ



بومبی لېسې (حضرت عمر فاروق رض عالي لېسې د
بام د ایزوکام جاري.
مرستندوی او لاسنیونکی
او بسپنه ورکوونکې ته دې
خدای یو په میلیون
اجرونه ورکړي. صدقات
یې د هرې بلا په مخکې
ورته سپر شه.



که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لالونه شي دا بوټي به لونګ شي
درویش درانی





(بومبی لېسې / حضرت عمر فاروق لېسې المنای)

# ملګري زده کوونکي

# ملګري زده کوونکي

(بومبی لېسې / حضرت عمر فاروق لېسې المنای)

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ور کړو
دا کاڼي به لالونه شي دا بوټي به لونګ شي

درویش دراني




بومبی ښوونځي (حضرت عمر فاروق رض عالي لېسې) لپاره پينځه کيلو واټه برېښنا جوړه شوه، چې دمګړۍ ښوونځي د لومړنيو اړتياوو لپاره برېښنا چمتو کوي. ښوونځي لا نورې برېښنا ته اړتيا لري. ورو ورو به د ټول ښوونځي د اړتيا وړ برېښنا برابره شي.











که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کانې به لالونه شي دا بوټې به لونګ شي
درویش درانی






ښاغلی ناصري صاحب پیغام ولېږه: د ښوونځي د رنګ له چارو او لګښت ډاډه اوسئ. هومره ډاډه لکه خپله یې چې سمبالوې. ان دا به درته مبالغه ښکاره شي چې ووایم تر دې هم لا ډېر ډاډمن اوسئ.

په چک ولسوالۍ کې د معارف سلمه کلیزه رادبره کېږي او له نیکه مرغه ښاغلي ناصري لومړی شخص دی چې په دې ولسوالۍ کې یې په اساسي بڼه د نجونو لپاره یې بې مثله ښوونځی جوړ کړ.

نورالهدا ناصري ښوونځي د چک ولسوالۍ ان د وردګ ولایت په کچه د نجونو لپاره لومړنی ښوونځی په داسې کیفیت جوړ شو.

دا له معارف، وطن او ولس سره د ښاغلي ناصري مینه څرګندوي. ښاغلي ناصري چې کله د بومبی ښوونځي خړپړ تعمیر انځور ولید، ویې ویل: سلمه کلیزه، دا ولس او د ولسوالي لومړنی جوړ شوي ښوونځي داسې خړپړ؟!

دا خبره او غږ یې د هېښتیا او ویښتابه غږ او جمله وه. دا یې پوښتنه وه چې ولې لا ښوونځی په داسې حالت کې دی.

ښاغلي ناصري صاحب دوه ځله ښوونځي ته رنګ لیږلی. د ښوونځي ودانۍ لویه ده او خورا ډېر رنګ ته اړتیا لري.

ملګري زده کوونکي، ولس او پرګنې لاسونه لپه کوي چې خدای دې ناصري ته یو په مېلیون عوضونه ورکړي.

په تصویر د ښوونځي د خړپړ تعمیر بڼه به په بله پوستر کې بدله روښانه وګورئ.

# ملګري زده کوونکي